# د کسي ګلان او "روشن اُگتے ہاتھ" پرتلیزه جاج

محمد نسیم*
ډاکټر نصیب الله سیماب♣

**Abstract:**

The authors of this paper have carried out comparative critical analysis of the two Pashto books ie. "Da Kasey Gulan" and " Roshan Ugtey Hath". The writers after comparision and crtitical analysis opines that the Kasey Gulan is much comprehensive, authentic and valued source as compared to the Roshan Ugthey Hath. Their opinion is based on the valid and scholastic arguments.

تاریخ لیکنه په نثري ادبیاتو کښې د ادبیاتو بنسټ ګڼل کیږي. د نړۍ هغه قامونه چې خپل تاریخ ئې ژوندی ساتلی دی او د خپل راتلونکي فیصلې ئې د تاریخ په رڼا کښې کړې دي هغه قامونه د نړۍ په ژوندیو او واکمنو قامونو کښې حسابیږي. په نثري ادبیاتو کښې تاریخ لیکنه بیلې بیلې ځانګې لري هره ځانګه پر خپل ځای قدر او ولیکلو ته اړتیا لري، د تېروخت و هره پېښه ته پاملرنه په لیکلي شکل کښې کول تاریخ لیکنه نومول کېږي. په تېروخت کښې چې د ژبې او د قام سره هر رنګه واقعات شوي وي هغه که د هر چا د لاسه وي منفي او مثبت اړخونه لري. و دغه پېښو ته په غېرجانبدار نظر سره کتل او په غېر فریقانه انداز سره ولیکلوته ربښتوني تاریخ نویس وئیل کیږي. د مقالې د طوالت له ویرې څخه خپلې د نن و تحقیقي موضوع ته راګرځو، نن مونږ په دې تحقیقي لیکنه کښې د سهیلي پښتونخوا د ادبي میدان څخه د دوو ادبي تذکرو موازنه کوو د هغوی پرتلیز جاج اخلو. دا دواړې تذکرې پر خپل ځای ادبي ارزښت لري.

ذکر په عربي لغاتو کښې مطلق ویادوني ته وئیل کیږي. و دویم یا وبل چاته و څۀ یادولو ته تذکره وئیل کیږي. په اصطلاح کښې ادبي تذکره د شعرا او ادبیاتو تاریخ لیکلو ته وئیل کیږي. ځکه نو تذکره د تاریخ یوه ځانګه بلل کیږي. څومره چې تاریخ

* M.Phil.Schollor,Deptt. Of Pahto University of Balochistan Quetta.
♣ Prof: Deptt, Of Pahto University of Balochistan, .nseemab902@gmail.com

ارزښتناکه دی هم دومره ادبي تذکرې ارزښت لري. د بېلګې په توګه مونږ د پټې خزانې مثال ورکولای شو. چې د پښتو ادب هغه تاریخي نسخه او تذکره ده چې د پښتو د ادب ډېر په زړۀ پورې او کلاسیک ستوري ئې ترننه پورې خوندي ساتلي دي. چې نن ئې هم محقق د مستند ماخذ په توګه په حوالو کښې راوړي.

دا وخت پښتانۀ ادیبان په دومره ګڼ شمېر سره دي چې ټول په یوه تذکره کښې څۀ په څو تذکرو کښې هم نۀ خوندي کېږي. د لوستونکو د اسانتیا په خاطر تذکره نګارانو هم تر خپله وسه پورې ئې د حدود و تعېن ورته کړی دی. هسې په سهېلي پښتونخوا کښې تذکرې ډېرې لیکل سوي دي. لکه د کسې دلمنې پښتانۀ لیکلوالان، د سهېلي پښتونخوا پښتو نثر لیکونکي، د احساس سترګي، ابشارونه د بهلول، روښانه ستوري، پښتانۀ نومیالیان او داسې نورې ډېرې تذکرې. نن مونږ د عبدالباري اسېر تذکره " روشن اُگتے ہاتھ "او د حافظ خان محمد مرحوم "د کسې ګلان" د دغه دوو تاریخي اثارو موازنه کوو چې دغه محترم لیکوالانو په خپل هدف کښې تر کومه ځای پورې بریالي سوي دي. هسې هم جدي ادب دومره پراخ او پر مختللی دی. چې د قلم هره کرښه په ادبي اثارو کښې شمېرل کېږي.

"د ادبیاتو د اوسنی تعبرونو له مخې د یوې ژبې ټول لیکلي (تحریري) او نالیکلي (شفاهي) منظوم او منثور هنري اثار ادبیات ګڼل کېږي."(۱)

مونږ پوره وس او توان کوو چې د دغه تاریخي هنري تالیفاتو موازنه وکړو، په دې دوو ادبي تذکرو کښې د حافظ خان محمد مرحوم د تذکرې"د کسې ګلان" ته د اویاړ ا و افتخار وړ په برخه دی چې د سهېلي پښتونخوا لومړی ادبي تذکره ده په دې تذکره کښې ټول تقریباً یو سل شپږ ویشت شاعرانو لنډه پېژندګلوي او د کلام نمونې لیکل شوې دي. د ډېرو سترو ګاللو وروسته حافظ صاحب په دې کښې کامیابه شوی دی چې د سهېلي پښتونخوا دغه یو رنګه ګمنامه غمي راښکاره کړي یوازې دا نۀ چې د کسې ګلان نومي تذکره د خپل عصر نمائندګي کوي. بلکې تر اوسه پورې د سهېلي پښتونخوا په نثري هنري اثارو کښې و ځان ته خپل مقام او ارزښت لري که څۀ هم تر دې تذکرې وروسته نورې تذکرې هم لیکل شوې دي. خو د کسې ګلان غوندې تذکره په هر لحاظ په سهېلي پښتونخوا کښې تر اوسه پورې بله نۀ ده لیکل شوې.

" د ارواښاد حافظ په غوره اوښو اثارو کښې یوه په زړۀ پورې او خوندوره تذکره "د کسې ګلان" ده چې د ۱۹۸۸ په اواخرو کښې د ښاغلي عزیز الرحمن پانیزي په مېړانه

او همت و ادبوالو ته وړاندې شوه، د سهېلي پښتونخوا په دې ابتدايي تذکره کښې د ۱۲۹ شاعرانو د ژوندانۀ لنډ حالات او د اشعارو نمونې راغلې دي."(۲)

د حافظ صاحب نثر ساده روان او جملې ئې لنډې لنډې دي که څۀ هم د روزمره نثر ورته وئيلای شو خو د نثر ادبي لوازمات ئې پوره کړي دي. د بيلګې په توګه د حافظ صاحب د نثر دا نمونه وګورئ:

" ملا اختر محمد دېښين اوسېدونکی ؤ، امامت ئې د قلعه عبدالله په کلي کښې ؤ، ډېر غټ عالم او مدرس ؤ، د زکوٰة او اسقاط روپۍ ئې ځان ته جائزې نۀ بللې. ساده ژوند ئې تېراوۀ، ډېر صابر وو علاوه پر دې چې لوی زاهد او عابد ؤ، د شپې او د ورځې به زيات وخت په اديرو کښې ګرځېدۀ، له عشق حقيقي ئې برخه درلوده له دنيا ئې تعلقات پرې کړي وو. "(۳)

حافظ صاحب په ډېره ساده او ادبي ژبه ليکل کړي دي چې د دۀ پر ليک لاس بری ښکاره کوي. په خپل دې تاليف کښې حافظ صاحب پوره کوشش کړی دی، چې د شاعر د ژوند حال او اشعار چې تر کومې اندازې پېدا کړي دي. هم هغسې ئې و ادبوالو ته وړاندې کړي دي. دغه تذکره د حافظ صاحب د مرګ وروسته چاپ شوې ده. ځکه د حافظ صاحب خپلې خبرې په تمهيدي ليکونو کښې نۀ شته. درې صفحې د حافظ صاحب د زوی د عزيز الرحمن د "يو څو خبري" په نامه سره لنډه غونډې لېکنه ورسره ده. وروسته پنځۀ دېرش مخه د صاحبزاده حميد الله صاحب ليکلې مقدمه په کښې وړاندې شوې ده او پنځۀ صفحې د ديباچې په نامه سره د فضل احمد غازي لېکنه ده. د صاحبزاده صاحب په مقدمه کښې تقريباً دحافظ خان محمد د تذکرې تر يو سل شلو زيات شاعرانو پېژندګلوي شته د حافظ د دې تذکرې سره دومره اوږده مقدمه دادب په ميدان کښې څۀ زرد رنګې لري. د تذکرې خپل ساده او هنري حسن ئې په دغه مقدمه سره څۀ خام کړی دی ځکه چې کوم معلومات په تذکره کښې هغه ئې په بېل شکل په مقدمه کښې راوړي دي چې د ليکوال زيار ته لوستونکی نۀ پرېږدي. مګر د حافظ صاحب خپل زيار چې څومره وستايو کم دی. د حافظ صاحب د تذکرې يوه بله خوبي دا ده چې اکثره هغه شاعران په کښې ياد شوي دي. چې په غرو درو کښې ليري اوسېدل مطلب د هغه وخت د رسنۍ څخه پټ پاته وو. مونږ وينو ځينو تاريخ ليکونکو صرف هغه واقعات ترقلم لاندې راوستلي دي چې هغه د خپل عصر پېژندل شوې څهرې وي. مګر حق دا دی او د تحقيق غوښتنه هم دا ده چې هغه څۀ را ښکاره شي کوم چې د نورو خلګو له نظره پټ پاته شوي وي د خوبنې او ناخوبنې ښکار شوي دي.

" د تـاريخ مقصـد د خپـل لوسـت پـه اعتبـار محـض پـه پـرون نظر نـۀ دی او هغـه هـم پـه خصوصـيت سـره پـر بـاچهي پيښـو نظـر، بلکـې دا کـټ مـټ دا دی چـې مـونږ ولولـو د تمـدن او کلتـور پـه اعتبـار، د بـدلون د روان فعـاليتونو پـه اعتبـار او د وګـړي او د قـام د ځـای او مجموعي خوښو او ناخوښو په اعتبار."(۴)

کـه د تـاريخ ليکـل وي کـه لوسـتل وي بايـدچې د قـام مجمـوعي ګټـې اوسـتونځې پـه پـام کښـې ونيـول شـي د دغـه تـذکرې حسـن هـم دا دی چـې پـه کښـې بـې ځـای مصنوعيت رد شـوی دی او فطـرت پـه کښـې سـتايل شـوی دی ځکـه خـو پښـتو ادب د حـافظ دغـه کتـاب پـه دواړو سـترګو قبـول کـړی دی. حـافظ صـاحب ټـول بـې نومـه شـاعران را ژونـدي کـړي دي کـه چـرې د حـافظ دغـه زيـار نـۀ وای کلـه هـم مـونږ د دغـه شـاعرانو سـره پېژنـدګلوي نـۀ شـوای پيدا کولی.

"د ګـران حـافظ د دغـه کتـاب زمـا پـه نظـر تـر ټولـو لويـه خـوبي دا ده چـې زمـونږ د تېـر دوران د ليکوالـو د يـو تـاريخي دسـتاويز حېثيـت لـري او نننـي نسـل تـه د هغـو ليکوالـو خلګـو پېژندنـه کـوي چـې د پښـتو د ليلـی پـه ولـولي زلفـانو کښـې رنګارنـګ ګـلان ټـومبلي دي."(۵)

د حافظ صاحب په تذکره کښې اکثره شعرا د حجرې او د مدرسې سره تعلق لري، ځکه چې حافظ خپله هم يو ديني عالم وو او په پښتو ژبه کښې ئې ديني نثري تصنيفات هم کړي دي. د حافظ دغه تذکره د پښتو ادب ته د افاديت ځو اړخونه لري. لکه دغـه کتـاب د سـهيلي پښـتونخوا لومړی ادبي تذکره ده،د دې کتاب نثر د زاړۀ نثر ځخه ماخذ او و نوي نثر تـه پـه هنري اعتبـار د ننوتلو يوه برياليی هڅه ده يعني امتزاج دی. پـه کتـابي سکبي لحـاظ سره د فارسـي و تـذکرو تـه ورتوالی لري دغه نژدېکت مونږ ځکه عېب نۀ ګڼو چې د پښتو په ادبي تذکرو کښې د حافظ و مخ ته يوازې پټه خزانه پرته وه او که نورې تذکرې وې هم هغه به خامخا د فارسي يا د اردو يانورو ژبو وې ځکه د حافظ پرليک باندې څۀ نه څۀ د فارسي اثر کېدلای شي. خو متاسفانه د کسې ګلان نومي کتاب چې کوم ارزښت لري هغه تر اوسه پورې پښتنو ادبيانو نۀ دی احساس کړی. دا د يـوه تاريخي دستاويز حېثيت لري او په دې سيمه کښې لومړيتوب لري.

زمـونږ د نـن د دې تحقيقـي لېکنـې دويمـه تـذکره د عبـدالباري اسـير صـاحب ليکـل شـوې تـذکره " *روشن اگتھے ہاتھ* " نـوميږي پـه اردو ژبـه کښـې دغـه تـذکره پـه ۱۹۹۱کښـې ليکـل شـوې ده. لکـه څنګـه چـې د نامـه څخـه معلـوميږي چـې د جـدت او رومانيـت ترڅنـګ معنويـت هـم لـري. د اردو ژبـې دغـه محـاوراتي نـوم چـې تـر شـا ډېـر لـوی پـس منظـر لـري پـه پښـتو ژبـه کښـې ئـې مـونږ تـش د "ځلانـده لاسـونه" پـه نامـه سره ترجمـه کـولای شـو دغـه تشـبيه

چې د شعرا کرامو دپاره کارول شوې ده. یقیناً هم د شاعر د خصوصیت سره وړ او حقداره ده، ولې چې شاعر ټولنه کښې د ځلانده ستوري حېثیت او پېژندګلوي لري او د هغه شاعرانو دپاره څوک چې د پرمختګ په حال کښې دي ډېره ښه تشبیه ده. په دې تذکره کښې ټول یو سل څلور اتیا شاعران ځای کړل شوي دي. چې په کښې د خیبر پښتونخوا دوه پنځوس شاعران هم یاد کړل شوي دي. یو سل دوه دېرش د سهېلي پښتونخوا شاعران دي. د خیبر پښتونخوا په شاعرانو کښې اکثره د مردان سره تعلق لري. د عبدالباري اسیر ودې زیار ته پښتو ادب په درنه سترګه ګوري، ځکه چې دا تذکره په اردو ژبه لیکل شوې ده چې د پښتو شاعرانئې د نورو ژبو د لیکوالانو سره معرفي کړل او دا کار دلته ده په لومړي وار وکړی دا ئې ځانګړتیا ده. ژبه ئې ادبي ده د اردو محاورې دومره رواني او د موقع په مناسبت دي چې په لوستلو سره د اردودان ګمان پرې کیدلی شي.

"ہمارا یہ شاعر شہر کی پر شور ماحول سے صحرا کی پر سکون فضا کو ترجیح دیتا ہے۔ ساتھ ساتھ وہ ارد گرد کی ماحول پر برابر نظر رکھے ہوئے ہے اور انکے ہر لفظ میں معنوں کا ایک بحر بیکراں چھپا ہوا ہے: (۶)

له دې څخه تاسو اندازه کولای شئ چې څومره په روانه ژبه کښې ئې لیکل کړي دي.اسیر صاحب دا په اردو ژبه ولي ولیکله په دې اړه صاحبزاده صاحب لیکي:

"پشتو شعراء کی حال وکلام پر اردو زبان میں کیوں خامہ فرسائی کی گئی تو جواباً عرض ہے کہ اول تو غیر پشتو دان حضرات سے ان شعراء کو متعارف کرانا تھا جس کیلئے اردو ہی واحد زریعہ تھی دوسری بہت سے پشتون تعلیمافتہ ہونے کے باوجود پشتو لکھنا پڑھنا نہیں جانتے ان کی ذوق وشوق کو مد نظر رکھ کر اردو میں ان شعراء پر لکھا گیا۔"(۷)

دغه تذکره په اردو ژبه د لیکلو وجه هم شاید دا وي چې هغه پښتانهٔ چې پښتو نهٔ شي لوستلی د پښتو شاعرانو سره ئې پېژندګلوي پېدا شي.

په دې تذکره کښې د شعرا تعارف په اردو ژبه دی او د شعرنمونه ئې په پښتو ژبه دي. د تعارف ترحده پورې ئې خو هغه پښتانهٔ چې پښتو نهٔ شي لوستلی یا اردودان ئې و پېژني مګر د فکر او فن څخه هغه فکر چې په پښتو نهٔ پوهېږي هسې ئې بې خبره پاته شو که چرې د اشعارو څهٔ نه څهٔ تشریح په اردو ورسره شوې وای بیا به د کتاب افادیت نور هم سېوا شوی وای. دغه شان یوه بله ستونزه چې په دې کتاب کښې شته هغه دا ده چې نهٔ د عصر تعېن شته او نهٔ د حدودو تعین شته،دا نهٔ شو وئیلی چې د پښتانهٔ ټول شاعران هم دغه دي، دا هم نهٔ شو وئیلی چې د پلانی سیمې شاعر دغه دی دا هم نهٔ شو وئیلی چې د دغه وخت څخه تر دغه وخته پورې دغه پښتانهٔ شاعران دي. زما په اند دا نیمګړتیا د کتاب خوند پیکه کړی دی. دهٔ بس دومره کړي دي چې د سهېلي پښتونخوا

او د خیبر پښتونخوا چې ترکومه ځای پورې د دۀ رسایي شوې ده هغه ئې رایوځای کړې دي. د ټولو شعرا کرامو حال ئې داسې بیان کړی دی. چې مؤلف د هر یوه سره ناسته کړې ده په ټول کتاب کښې ئې نۀ د یو راوي او نۀ د یو کتاب حواله ورکړې ده حال دا چې داسې شاعران هم په کښې یاد شوي دي. چې ډېر وختې مړۀ دي. اسیر صاحب په خپله لیکنه کښې د نقد څخه ځان ژغورلی دی ټوله خبره ئې په تحسین کښې تر سره کړې ده.

"عبدالباری اسیر نے تنقید سے کام نہیں لیا کیوں نہیں لیا اس کا جواب انہی کے ذہن میں ہو گا لیکن تحسنی اظہار بھی ایک طرح کی تنقید ہی ہے۔"(۸)

د مائل صاحب د دې خبرې سره د هم رېغی پر بنیاد تحسینی اظهار هم د تنقید یو ډول دی مګر دغه تنقید په هنري نثري ادبیاتو کښې په غېر شعوري توګه هم کېدلی شي. که څۀ هم څۀ نه څۀ نمګړتیاوې دغه تذکره لري خو د ادب و میدان ته یوه مثبت اضافه هم ده.

روشن اُگتے ہاتھ نومي تذکره یوه بله مهمه ځانګړتیا لري هغه دا ده چې د هر شاعر د کلام او پېژندګلوي سره په کښې د شاعر عکس هم ورکړل شوی دی. چې د تذکرې د حسن د زیاتوب سبب جوړېږي لکه مخکښې چې مو ووئېل، چې د عصر او جغرافیه تعېن نۀ دی په کښې شوی مګر اکثر شاعران ځوانان او د مؤلف هم عصره دي. د دې دوو تذکرو د لیکلو په منځ کښې درې دیرش کاله وخت دی د کسې ګلان نومي تذکره په ۱۹۵۸ کښې د چاپېدو دپاره تیاره وه له بده مرغه په دغه کال حافظ خان محمد مرحوم په حق ورسېدی. ځکه د دغه کتاب د چاپیدو کار و ځنډېږي.

"دا کتاب په اول ځل په مئ ۱۹۵۸ کښې د پښتو ادبي ټولنې له خوا په سر کاري خرڅ د چاپېدو دپاره تیاره کړل شو. د هغه وخت د کوټې کمشنر د دې کتاب دپاره رقم هم ورکړی ؤ. د لومړۍ کاپۍ یعني د سر شپاړسو مخانو کتابت هم شوی ؤ. دا کتابت پر لیتو شوی ؤ. څو میاشتې پس یعني په اګست ۱۹۵۸ کښې بابا مرحوم وفات شو او د کتاب دا کار پر هغه ځای پاته شو."(۹)

د حافظ مرحوم د مرګه بعد دغه تذکره په لومړي ځل په ۱۹۸۹ کښې چاپ کړل شوه. مګر هم د دې دوو تذکرو په منځ کښې ځیني مشترک شاعران شته چې دواړو تذکرو یاد کړي دي لکه اخترمحمد ثاني، صاحبزاده حمید الله، عبدالغفور پردیس، کمال الدین کمال، محمد رسول فریادي او داسې نور...

د دغه یوه شاعر په حواله سره د دوئ په منځ کښې څۀ تضاد معلومیږي د اختر محمد ثاني په حواله سره حافظ خان محمد داسې لیکلي دي.

"اخترمحمد ثاني د پرش کلن ښائسته او جسیم ځوان دی د ګلستان په بازار کښې دکانداري کوي په ذات بارکزی دی د دهٔ غزلي مجلسیان ډېر په خوند وایي واجبي تعلیم ئې کړی دی د دهٔ اکثره غزلې مجازي دي."(۱۰)

اسېر صاحب د اختر محمد ثاني په حواله سره داسې معلومات راوړي دي.

"اختر محمد ثانی جو تخلص کی جگہ بھی اپنے کلام میں پورا نام لکھتے ہے کاکڑ قبیلہ کی زیلی شاخ سنٹیا سے تعلق رکھتے ہیں وہ ضلع ژوب مسلم باغ کے گاوں کاریزگی میں عیدالفطر کے پہلے دِن 1931میں عطامحمد کے ہاں پیدا ہوئے او پیشے کے لحاظ سے محکمہ ریلوے میں ملازم ہے-"(۱۱)

بارکزی قوم په پښتني تېرونو کښې په کاکړ او اچکزی په دواړو کې شته حافظ صاحب یوازي بارکزی یادکړی دی او په کاروباري لحاظ سره ئې دوکاندار بولي مګر اسېر صاحب ئې په قوم سنټیا کاکړ بولي او د پېشې په لحاظ ئې په رېلوې کې ملازم یادوي. په نسبي او کاروباري لحاظ د اختر محمد ثاني په حواله سره د دوئ په منځ کښې تضاد ښکاره دی خو دغه جذوي تضاد ونوري پېلتښي ته بلنه ورکوي. د ادبي فنپارو دغه یو رنګه مثبت اختلافات د ادبیاتو لمن نوره پراخه وي خاص کرد ادبي تذکرو په میدان کښې مثبت تضادات د رښتوني نقد یوه ځانګه تخلیقوي. ځکه چې هر مؤلف د خپل معلوماتو له مخې د شاعر پېژندګلوي وکړي کله چې د جدي ادب د تحقیق نقشه پر برابره شي بیا د شاعر و اصل پېژندګلو ته لاره هواره شي.

"لکه څنګه چې د شرقي او غربي ژبو د تاریخ ژوندی روایت دی چې ادبي تاریخونه له تذکرو او یاداشتونو څخه پېل شوی دی. د پښتو ژبې تذکرې هم د فارسي ژبې په پله باندي قدم ایښی دی ادبي تذکرې د هغه ترتیب او تنقیدي را ئې یوازې انفرادي اسلوب لري چې هر لیکوال نیمګړې معلومات د خپلې خوښې پر اساس راغونډ کړي دي."(۱۲)

په لیکلي نثري ادبیاتو کښې د تذکرو د ارزښت څخه کله سر غړونه نهٔ شي کېدای. که څهٔ هم د تذکرې د مؤلف پر خپل تالیف باندې فکري او فني اثر تر نورو فنپارو زیات اغېزمن نهٔ وي. خو بیا هم د رسایي او د معلوماتو په اعتبار سره د تذکرو په منځ کښې څهٔ نه څهٔ توپیرونه وي.

د دې تذکرو په سرسري څېړنه کښې څهٔ اړخونه د ادبي افادیت په اعتبار رابرسېره شو. د کسي ګلان نومي تذکره ته لوی دا افتخار حاصل دی. چې د سهېلي پښتونخوا د پښتو ادب لومړي او مستنده تذکره ده شپېته کاله مخ کښې لیکل شوې دغه تذکره په فني لحاظ سره هم پوره معلومېږي. د هغه عصر درسنی او رسایي په

مطابق حافظ صاحب په خپل پوره وس او توان سره زيار ايستلی دی چې د کسي د لمني هر ګل تازه او ژوندی وساتي. له دې سره اسير صاحب هم په خپله تذکره کي يقيناً ډېره خواري کښلې ده داسې يوه ضخيمه ادبي تذکره ليکل خورا مشکل کاری دی. آن تر دې پورې چې د شاعر د ژوند حالات د کلام نمونه او ورسره عکس دا ټول راغونډول د دې خبرې ثبوت دی چې اسير صاحب د پښتو ژبې يوتکړه خوا خوږی او ربښتونی تاريخ نويس دی که يو خوا د کسي ګلان لومړی تذکره ده نو بلې خواته "روشن اگتھے ہاتھ" هم د شاعر د عکس د ورکولو په لحاظ د سهېلي پښتونخوا لومړی تذکره ده. په سهېلي پښتونخوا کښې نورې تذکرې هم ليکل شوې دي. هره تذکره پر خپل ځای قدر او اهميت لري. په خپل وار سره هره تذکره په مثبت سوچ او و ربښتونې څېړنې ته اړتيا لري، د جديد ادب د نوي محقيقينو په ذمه واريو کښې يوه دا هم ده چې کوم تاريخي او زاړهٔ تصنيفات او تاليفات چې په پښتو ادب کښې شوي دي د خپل نوي سوچ او د پښتو ادب د زاړهٔ بنسټ په تله کښې ئې تر څېړنې لاندې راولي. چې د افاديت چوکاټ ئې نور هم پراخ شي.

**پايله**: په دې تقابلي جائزه کښې مونږ په دې نتيجه رسيږو چې د حافظ خان محمد تذکره د عبدالباري اسير د تذکرې په پرتله په هره حواله جاميعيت لري.دا خبره ځکه کوو چې يو خو هغه وخت دومره وسائل نهٔ ؤ څومره چې د اسير صاحب په وخت کښې ؤ، دويم د اسير صاحب تذکره په اردو کښې ده، د شاعر کلام په پښتو کښې دی چې ترجمه هم نهٔ لري او بله نيمګړتيا ئې دا ده چې د خپل تحقيق ذريعه هم نهٔ ښايي. ځانګړتيا ئې دا ده چې د شاعرانو انځورونه په کښې خوندي شوي دي.

❀❀❀

# حوالې

(۱) هیواد مل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۰۰، مخ، ۱

(۲) کاکړ، پروفیسر ولي محمد سیال، نثري انځور،

پښتو ادبي بورډ کوئټه، ۲۰۰۵، مخ، ۷۶

(۳) خان محمد حافظ، د کسې ګلان، بلوچستان بک ډپو کوئټه ۱۹۸۹، مخ، ۳

(۴) مائل، پروفیسر رب نواز، ادب تنقید او فکر،

پښتو اکیډمي کوئټه، ۲۰۰۳، مخ، ۱۲۳

(۵) اسیر، عبدالباري *روشن اگتھے ہاتھ* سعد پبلیکیشنز کوئټه ۱۹۹۱، مخ، ۲۰۳

(٦) غازي، فضل احمد، د کسې ګلان، بلوچستان بک ډپو کوئټه ۱۹۸۹، مخ، ۴۳

(۷) حمید الله، پروفیسر صاحبزاده، "*روشن اگتھے ہاتھ*" سعد پبلیکیشنز کوئټه، ۱۹۹۱، مخ، ۱۸

(۸) مائل، پروفیسر رب نواز، *روشن اگتھے ہاتھ*، سعد پبلیکیشنز کوئټه، ۱۹۹۱، مخ، ۲۲

(۹) عزیز الرحمن، حاجي، د کسې ګلان، بلوچستان بک ډپو کوئټه، ۱۹۸۹، مخ، ۱

(۱۰) خان محمد حافظ، د کسې ګلان، بلوچستان بک ډپو کوئټه، ۱۹۸۹، مخ، ۶

(۱۱) اسیر، عبدالباري، *روشن اگتے ہاتھ*، سعد پبلیکیشنز کوئټه ۱۹۹۱، مخ، ۴۵۲

(۱۲) بریالی، عبدالکریم، پټه خزانه د حقیقت په آئینه کښې،

پښتواکېډمي کوټه. ۲۰۰۳، مخ، ۱۴